لمر افغان ۲۰۱۰/۱۱/۲۲

# مـلـــی ســـرود
## په نره مې قانون مات کړ! (اخبر)

څو ورځې وړاندې په چين کې د آسيايي لوبو په بهير کې د ملي سرود پر ځای بله سندره وغږول شوه، د دغې ملي ضد کړنې په وړاندې ځينو رسنيو او شخصيتونو خپل غبرګونونه ښکاره کړل، خو تر اوسه کومې قانوني مرجع په دې اړه کومه پرېکړه نه ده کړې. خو په ډېرې سپين سترګۍ سره د ملي المپيک کميټې مشر جنرال ظاهر اخبر د بي بي سي راډيو سره په مرکه کې وويل چې دوی د لوبو په پيل د بيرقونو په وخت يې ملي سرود وغږوو، خو کله چې لوبډله تېرېدله په هغه وخت کې موږ دغه سندرې وغږوله. دی وايي دا زموږ کار دی او موږ له مخه همداسې هوډ کړی و چې په دې پړاو کې به ملي سرود نه، دغه بله سندره غږوو. په داسې حال کې چې نورو هېوادونو په دواړو پړاونو کې ملي سرود وغږولو اما زموږ هېواد يوه سندره د ملي سرود په ځای د لوبغاړو د تېرېدو په حال کې وغږولو.

ملي سرود ولې و نه غږول شو؟

دا چې په چين کې د افغانستان سفارت او د ملي المپيک کميټې چارواکي د پښتو ژبې سره پلارنۍ دښمني لري، نو ځکه يې د ملي سرود غږول په دغه شان يوه پرتمينه غونډه کې ونشوی زغملای او په ځای يې بله سندره وغږوله. دوی خپله په دې اقرار کوي چې دغه کار دوی قصداً کړی. دا يوازې د چين د لوبو مسئله نه ده له دې مخکې هم د افغان او د افغانانو د يووالي ضد څېرو د هېواد د ننه او بهر په ملي مسايلو ريشخند وهلی او د هغې پر ځای يې نور خپل سليقوي بديلونه راوستلي. همدا شان د المپيک په ملي کميټه کې هم دا لومړنۍ پېښه نه ده چې د ملي مسايل په ضد شوې، له دې مخکې هم ډېر داسې کارونه شوي چې ملي يووالي ته يې د پام وړ زيانونه اړولي. لکه د لوبغاړو په ټاکنه، نړيوالو لوبو ته د لوبغاړو استول، د بريالیو لوبغاړو نه لمانځنه لکه د کريکټ ملي ټيم او داسې نور...

ولې د دغه شان ملي کړنو او قانون ماتولو په وړاندې عملي غبرګون نه اخيستل کېږي؟

د افغانستان اساسي قانون چې لويې جرګې تصويب کړی په څرګنده توګه بيانوي چې د افغانستان رسمي ژبې پښتو او دري دي او ملي سرود به په پښتو ژبه وي. چې په جزئياتو کې يې نور مسايل هم راځي او زموږ اوسنی ملي سرود ټول هغه کوايف او محدوديتونه چې قانون ورته وضعه کړي هغه لري. لکه د قومونو نومونه، د الله اکبر لرل او دغه شان نور... نو اوسنی ملي سرود د اساسي قانون د ټولو موادو په پام کې نيولو سره جوړ شوی او د ولسمشر له خوا توشيح شوی سرود دی. چې بايد په ملي او نړيوالو غونډو کې د افغانستان د هويت ښکارندويي وکړي. خو د بده مرغه د افغان ضد کړۍ دغه ټول قوانين او اصول له پام غورځوي او د هغې پر ضد خپل اقدامات کوي. همدا شان په قانون کې ياده شوې چې په افغانستان کې ټول قومونه مېشت دي، دوی د عدالت له مخې ټول د يو شان حقوقو څخه برخمن دي او د قانون د مخه زموږ مقدس دين اسلام هم په صريحه توګه يادونه کړې چې موږ تاسې په قبيلو او قومونو ووېشلی ستا تر منځ هغه خدای ته نژدې دی چې تقوا ولري. نو د مبارک آيت له مخې د وګړو تر منځ د لويوالي او غوره والي هيڅ بل معيار پرته له تقوا نشته. چې موږ په خپلو ورځنيو چارواکو د تقوا تر څنګ وړتيا په مسلکي مسايلو کې ورزياتوی شو، بلکې دا زياتونه نه ده د آيت د تفسير يوه برخه ده. خو د بده مرغه د ملي المپيک کميټې نه يوازې دا چې د افغانستان اساسي قانون ته ژمن نه دي پاتې شوي بلکې د اسلام له اصولو يې هم مخ اړولی. ډېر ليدل شوي چې د قومي او شخصي اړيکو پر بنسټ بهرنيو لوبو ته داسې کسان لېږل شوي چې وړتيا يې نه درلوده، بيا يې له هغه ځايه تښته کړې او هڅه يې کړ چې په کوربه يا د هغې په ګاونډي هېواد کې استوګن شي. همدا شان يې په هڅونو کې؛ ډېر داسې کسان وو چې د نړۍ په کچه يې ښې لاسته راوړنې درلودې، د هغوی لمانځنه ونشوه خو يو بل څوک چې ډېره يوه عادي لوبه يې ګټلې وي اما د المپيک د چارواکو سره قومي يا شخصي اړيکې ولري نو هغه په ډېره لوړه کچه لمانځل کېږي.

دا ټول هغه بهير دی چې د بهرنيانو له خوا يې ملاتړ کېږي تر څو د افغانانو تر منځ د يووالي ټغر ټول شي. په تاريخ کې د افغانانو برياوې له يووالي سرچينه اخلي، خو اوس بهرنيان غواړي افغان ولس ته ماته کړي، د ماتې يوه لاره يې دا ده چې د ورونو قومونو تر منځ د خپلو ګوډاګيانو له لارې درز او واټن رامنځ ته کړي.

که چېرې داسې نه وای نو دغه د بهرنيانو لاس پوڅۍ حکومت چې ډېری برخه يې پښتانه جوړوي او ان مشر يې هم ځان پښتون ګڼي، د دغه شان ملي ضد چې لوی زيان يې پښتون قوم ته رسېږي مخه به يې نيولې وی او اړوند



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چارواکي به يې د محاکمې ميز ته راکش کړي وي، په دې سره به زموږ د ورونو قومونو وروروليلکه د پخوا په شاني پاتې وي او هيڅ بهرني او کورني ځواک به بيا جرئت نه وي کړی چې دغه شان ملي ضد کړنې ترسره کړي.
تر اوسه حکومت د ملي ضد فعاليتونو په وړاندې څه کړي؟
حکومت او هغوی ته اړوندو چارواکو يې تود هر کلی کړی او هر څوک چې په دغه تور تورن شوي، هغوی نور امتيازات هم ترلاسه کړي او لوړ موقف ته يې ترقي کړې ده. ډېرې داسې بيلګې شته چې ځينې کسان په قومي ډل وژنو او ملي ضد کړنو تورن دي او همدا شېبه يې هم دغه کړنې رواني دي خو حکومت نه يوازې دا چې هغوی يې له دندې نه دي ګوښه کړي بلکې د هغوی په خوښه يې هغوی ته ښه ټيمونه هم ورجوړ کړي چې په دغه پروسه کې نوره هم مرسته ورسره وکړي. په دې مانا چې د هغوی د کړنو لپاره يې زمينه مساعده کړې. د هېواد شمالي ولايتونه يې يوه ښه بيلګه ده. کله چې کوم زړه سواندي افغان د دغه شان کړنو په وړاندې غبرګون نه بلکې خپل مسؤليت يې په ځای کړی نو د ټولو دخيلو ارګانونو له خوا تقبيح او مجازات شوی دی. تاسو ته به د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کيسه درياده وي چې خرم صاحب د اساسي قانون د پلي کولو په تور د ولسي جرګې له خوا صلب اعتماد شو. او دا چې حکومت څه ورسره وکړل هغه خو تاسي ګورئ.

دلته مايوازې څو بيلګې راوړې خو تاسو باور وکړئ چې د افغانستان د ملي ضد څېرو کړنې له هغه څه ډېرې زياتې دي کوم چې موږ فکر کړو. موږ افغانان په ځانګړې توګه پښتانه بيا تر اوسه هم په خپلو کې سره نښتي يو. څوک خلقی، څوک حزبی او څوک هم افغان ملتی شمېرو او دغه شان يو د بل سر خورو. که داسې نه وی همدغه ياد شوي درې تنظيمونه چې خلک يې په پښتونتوب تورنوي، يو ځل به يې د دغه شان کړنو په وړاندې يو غبرګون ښکاره کړی وو. يو مطبوعاتي کنفرانس يا اعلاميه خو به يې خپره کړې وه. خو غړي يې دا فکر کوي چې زموږ ګوند ګواکې د ټولو پښتنو او اسلام علمبردار دی او هغه بل ګوند نه دی نو ځکه يې غړي هم زموږ سره توپير لري او په ډېره ټيټه کچه ملي مسايلو ته ګوري.
څه بايد وشي؟
په ځانګړې توګه د چين د پېښې په اړه بايد د سفارت او المپيک چارواکي د محاکمې ميز ته راکش شي. څوک به دا کار کوي؟ آيا حکومت دغه کوي؟ هيڅکله هم نه. نو ولس بايد د خپلو غبرګونونو له لارې په حکومت، ملي شورا، قضائيه ارګانونو او ملګرو ملتونو فشار راوړي چې دغه کسان محاکمې ته راوبستل شي. ولس کولای شي د رسنيو، لاريونونو او ډلګيو له لارې خپل دغه آواز د فشار لپاره ټولو اړوندو مراجعو ته ورسوي. د اسلام-افغان او پښتو ټيکه داران دې دا خپل مسؤليت وګڼي او په دې اړه دې ژرترژره په خپلو غبرګونونو پيل وکړي. دا کومه تېروتنه نه ده، بلکې د ملي المپيک د کميټې مشر وايي دغه کار يې قصدي کړی نو بيا چپ پاتې کېدل څه ته؟
په ټوليزه توګه د ولسي فشار له لارې بايد د حکومت چارواکي فلتر شي، هغه کسان چې په تعصب او قومي چلند تورن دي هغه بايد له دندې ګوښه شي، که هغه په هر قوم پورې تړلي وي، بيا هم د افغاني هويت ضد کسان دې او ژر تر ژره يې بايد کړنې په ټپه ودرېږي. دا هيڅکله هم په دې مانا نه ده چې حکومتي چارواکي دې ټول پښتانه شي، داسې پښتانه هم شته بلکې ډېر شته، چې د ملي کړنو ضد دي هغوی دې هم له دندې لرې شي او داسې د نورو قومونو مخور او پوه کسان شته چې ښه کار د وطن لپاره کولای شي هغوی بايد را وړاندې شي.
هيله ده چې زموږ افغانانو يووالی به د بهرنيو او کورنيو دښمنانو دغه شان توطئې او خوبونه چې غواړي افغانستان تجزيه او ورونه قومونه سره په نښته کې کړي، له منځه يوسي او د يو آباد او سرلوړي، متعهد افغانستان په جوړېدو کې به مرسته وکړي.

په درنښت
لمر افغان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ